# د یادونو مقبرو کښې

۲

سعدالله جان برق

حقیقت خو دا دے چې د باچا خان ظهور عین په داسې وخت کښې شوے ؤ چې د پښتون قام هم هغه حالت ؤ کوم چې د اسلام نه وړاندې د عربو ؤ.

عربو به هم جهالت ته بهادري او عقل ته جهالت وئیلو، هغوي به هم د یوې مرغۍ په سر سل کاله دشمني کوله او دوي هم د ډېران په سر څو څو پېړۍ قتل و قتال کولو.

هغوي به ژوندۍ لوڼه "ګور" کښې ښخولې او دوي به ژوندۍ لوڼه خوښندې په "کور" کښې ښخولې. هغوي به هم د کجورې په یوه ونه بې شماره ځوانان بائلل او دوي هم په یو لپښت زمکه ټول جائداد او ځان و مال بائلو.

هم هغه شان تیارهٔ دلته هم وه، صرف دا فرق ؤ چې هغوي به د کاڼي بتانو ته سجدې کولې او دوي به د حکومت اهل کار او خان ته سجده کوله.

هغوي به لات و منات ته قرباني پېش کوله او دوي به د غېرت او بهادرۍ بتانو ته د ځان او بال بچ قرباني پېش کوله.

د اردو د یو شاعر شعر دے چې:

سوچتا هون سرِ ساحل باقی
یه سمندر همین کیا دیتے هین

او زهٔ اکثر سوچ کوم د زرګونو کالو بهادرۍ پښتون له څهٔ ورکړل، قبرونه مقبرې او جنازې.

په نهٔ څهٔ خبره خپل ورور وژل، بربټ تاوول او بیا په جېلونو او مفرورتیا کښې ټول عمر بې غېرتي کوي.

یو عمومي مثال به راواخلو چې دوه وروڼه تربوران یا ګاونډیان دي د دواړو ترمېنځه تنازعه راغله هغه یو دې بل ته کنځل وکړل یا ئې پړق ورکړو او دهٔ هغه قتل کړو نو بیا څهٔ کېږي چې دے جېل ته لاړ شي د تاڼې د سپاهي نه د جېل تر نمبرداره پورې ورته د هغې نه په سوونو چنده زیاتې کنځلې کېږي او دهٔ سر ټیټ کړے وي، د پولیس نه واخله د جېل تر عملې پورې ورله لتې سُوکونه او پړقونه ورکوي. ښځه لُور ئې پردې خدمت ته کښېني، هر څوک ئې رټې کنځې او بې عزته کوي.

نو کهٔ دهٔ په کور دننه یا کلي کوڅه کښې د هغه ورور تربور یا ګاونډي هغه پړق یا کنځل زغملې وے نو د عمر د رسوایۍ نه به بچ ؤ او کهٔ هغه ورور تربور یا ګاونډي د سړي بچے وے نو بله ورځ به ئې د دهٔ په زیاتي د زغم نه کار اخستو.

زرګونه کاله چې مختلفو حکمرانانو د خپلو فائدو دپاره پښتون ته د بهادرۍ جر جر کول نو د

هغې نتيجه دا وه چې د دهٔ په سر کښې دماغ عقل او پوهه هيڅ پاتې نهٔ وو، بس صرف يوه د بهادرۍ غټه شان ننکۍ پکښې غټېده غټېده آخر دا چې په ټول سر کښې ئې هم دغه ننکۍ پاتې شوه نوره ترې نه عقل فکر او پوهې کډه وکړه.

په داسې حالت کښې هغه خړ پړ خو عظيم الشان بنده دهٔ له خدائے پاک ورکړو چې نوم ئې باچا خان دے:

آن حکـــيم ملـــت افغانيـــان
آن طبيـــب علـــت افغانيـــان

پکـار خـو دا وه چـې د رڼـا د دغـه مشـال دې پښتون قدر کړے وے خو کهٔ قدر ئې کړے وے نو بيا پښتون پهٔ څهٔ شو، د پښتون خو صفت دا دے چې د دښمن به قدر کوي او دوست له به لتې ورکوي. پښتون خو هغه چا ته دوست وائي چې دهٔ له ټوپک په لاس کښې ورکړي چې ورځه پرې او چې څوک ئې د لاسه ټوپک واخلي او د تباهۍ نه ئې بچ کړي نو هغهٔ ته دشمن وائي او باچا خان د دهٔ د لاس نه ټوپک غورزولو او قلم ئې ورکولو.

هغه حکيم، هغه طبيب، هغه د دهٔ دوست ووې چې د پښتون د ترقۍ او سيالۍ لاره صرف د علم لاره ده. دے به هله دوست دښمن پېژني چې په لاس کښې د علم مشال ورکړے شي.

هسې نورې خبرې خو به يو طرف ته کړو، صرف په دې خبره به سوچ وکړو چې په دغه سړي کښې داسې څهٔ کمال ؤ چې پښتون غوندې قام ته ئې د بل د وژلو په ځائے د ځان د وژلو چل وښودلو او دا ډېره لويه خبره ده په تاريخ کښې ئې هېچرته مثال نشته.

په دنيا کښې د امن ډېر لوئے لوئے علمبردار پېدا شوي دي، گوتم بدهه، اشوک، گاندي او نور بې شماره خو دا کمال صرف په دې سړي کښې ؤ چې د مرگ د وړاندې خپل لاسونه وتړه او ودرېږه، ټېنگونو ته څمله او هيڅ لاس پښه مهٔ خوځوه، گولو ته ودرېږه او خپله سينه ورته ډال کړه.

گوتم بدهه د بل د نهٔ وژلو او نهٔ آزارولو پرچار کړے دے خو د ځان د وژلو هنر ئې نهٔ دے ښودلے، اشوک هم چې کله د زرگونو خلقو وينه وليدله نو توبه گار شو.

گاندي هم داسې قوم ته عدم تشدد ښودلے دے چې هغوي د وړاندې نه هم څهٔ زيات جنگ جدليان نهٔ وو. په لاس کښې ورسره توره ټوپک نهٔ وو خو باچا خان خو داسې قوم ته د بل د نهٔ وژلو او د ځان د وژلو سبق ورزده کړے ؤ چې څو څو پېړۍ ئې په تشدد او قتل و قتال کښې تېرې شوې وې او وينه تويول ئې په طبيعت او جبلت کښې شامل وو او دا خبره د دنيا د ټولو امن پسندو په صف کښې باچا خان له يو بيل مقام ورکوي.

خو هغه طاقتونو دا چرته زغملے شول چې زمونږ د جنگونو مشين زمونږ قلانگې چرگ او زمونږ بُلټيئر دې داسې امن پسند شي. د هغوي کاروبار خو په بهادر پښتون روان ؤ، پوهه پښتون خو د هغوي هيڅ د کار نهٔ ؤ او باچا خان دغه کار کولو چې د پښتون د لاسه ئې ټوپک غورزولو او د علم مشال ئې ورکولو.

نو هغه طاقتونو چې کاروبار ئې په بهادر يا جاهل پښتون روان ؤ په شريکه د دې خطرې د لرې کولو دپاره ملا وتړله. په دغه کاروباري خلقو کښې

خپل هم شامل وو او پردي هم. هغه د پښتو څۀ زبردست متل دے چې:

"د سپو کور په کور دشمني ده، خو فقير ته يو شي"

او يو شول او لا تر اوسه يو دي او تر هغې به يو وي چې پښتون ئې دوباره د خپل "کار" کړے نۀ وي.

د افسر شاه کاکاخېل په وادۀ کښې ډېر خلق وو چې د باچا خان خبرې ئې اورېدلې خو ما خبرې نۀ اورېدلې، باچا خان ته مې کتل او سوچ مې کولو چې دا هم زمونږ د دور "حسېن" دے. بې شکه چې حسېن هم جنګ بائللے ؤ او يزيد ګټلے ؤ خو يزيد سره د حکومته لاړو ورک شو او حسېن لا تر اوسه ژوندے دے. هغه وخت کښې باچا خان په کټ کښې ناست ؤ خبرې او ګپ ئې لګولو خو ماته خدائے خبر ولې دا شهيد شهيد غوندې ښکارېدو، بعضې خلق چې ژوندي وي نو ژوندي وي نو هم شهيدان وي او چې مړۀ شي نو هم ژوندي وي.

خبره رانه ډېره يو خوا بل خوا خوره شوه اوس به بيا لږ خپل ځان ته راوګرځم.

ما وړاندې دا خبره کړې ده چې زما تعلق د يوې داسې کورنۍ سره دے چې هېڅ څۀ خاص خبره پکښې نشته، نۀ مې چرته نيکونو کښې څوک د کار نيکۀ پېدا شوے دے، نۀ علمي، مذهبي يا په څۀ بله خبره مشهوره کورنۍ کښې پېدا شوے يم، بيا غم د پاسه غم پکښې دا شو چې ما هم څۀ خاص تعليم حاصل نۀ کړو، هسې خو د خلقو په ما ډېر ډېر ګمانونه دي خو ما هغه لسم هم نۀ دے پاس کړے، نيمه کښې تري وتښتېدم خو د ژوند په مدرسه کښې مې ډېر سبقونه وئيلي دي، په دې سلسله کښې زۀ د سيف الرحمن سليم جماعتي يم، وائي چې:

چاپلوسې او خوشامنده مې زده نۀ کړه
دې مضمون کښې نا لائقه د جهان يم

سليم صيب خو صرف يو مضمون کښې فېل دے خو زۀ ټولو پرچو کښې راغلے يم يعنې:

برقه د دنيا په مدرسه کښې زۀ فېل شوے يم
ډېر وهل مې وخوړل خو هېڅ څۀ راله نۀ راځي

زما د سکول نه د تښتېدو وجې دوه دي، بلکې دغه دوه وجې هم په خپلو کښې يو دي. يو خو دا چې زۀ په نهم کښې فېل شوم او دوېمه وجه ئې الف دين دے، خو فېل شوے هم د الف دين په برکت يم نو ټولې وجې د الف دين نه شروع کېږي او په الف دين ختمېږي.

الف دين زما لږ لږ خپل هم ؤ خو په اصل کښې زما استاذ ؤ، عمر ئې ما نه زيات ؤ خو سبق به مو په يو کلاس کښې وئيلو.

الله دې ورله بهتر دوزخونه ورکړي، ځکه چې ماته ئې ډېر څۀ ښودلي دي. په چيلم باندې زۀ الف دين را اړولے يم، د سکول نه د پټېدو او ګېرچاپېره کلو کښې تماشو يا ښار ته فلم کتلو دپاره د تلو رهبر او رهنما هم زما هغه ؤ، فېل کېدل خو د هغۀ خپله پېدائشي پېشه وه نو ماته ئې هم دغه بې مثاله فن وښودلو او څۀ ډېر محنت د دې کار دپاره پکار هم نۀ ؤ، سکول نه پټېدل او په څۀ نا څۀ غېر نصابي سرګرمو کښې وخت تېرول څۀ دومره محنت خو نۀ غواړي، هغه زمانه کښې به د ډمو تماشې ډېرې وې چې د شپې به هم تماشه وشوه او سحر نه تر غرمې به ئې هم يوه شېبه کوله او الف دين ته به پته وه چې

نن په کوم کلي کښې تماشه ده، بستې به مو چرته ښخې کړې او مخه به مو وکړه. چیلم هغهٔ د لمسو پېو د هائي سکول په لاره کښې دریافت کړے ؤ، د نهر په غاړه د یو زمیندار دېره وه سحر وختي به چې مونږ تلو نو د تیلو ډېرے به الف دین سره ؤ او د هغه زمیندار په چیلم به مو ساړو باندې ووهلو، ساړ هغه نیم سوخته چیلم وي، هر چا ښنبلے وي او لړ لړ غاړو ته پکښې تماکو پاتې وي، چیلم نه پس بیا سګرېټ شو بیا نسوار شول او چه تر اوسه ترې نه لا خلاص نهٔ یم.

پرېښودلے مې شول خو نسوار دومره خوند ناکه او د فائدو ډکه نشه ده چې جدائي مې ترې زړهٔ نهٔ غواړي خلق په نسوارو پسې رنګ رنګ خبرې کوي. کوي دې غرېبانانو پسې ځوک خبرې نهٔ کوي؟ خو کهٔ ماته چا ووې چې د نسوارو قصیده ولیکه نو لکه د سمندر صبب پرې درله د یو لک شعرونو نظم لیکلے شم، نسوارو کښې د ټولو نه لوئے صفت دا دے چې بله نشه ببخي نهٔ منې. د دې په موجودګۍ کښې د بلې نشې هډو ضرورت نهٔ وي او دا کوم خلق چې د نسوارو سره سره بله نشه هم کوي دا هسې مستي کوي لکه اکثر خلق چې د مستۍ د لاسه دوېم وادهٔ وکړي.

ضرورت نهٔ ؤ د مستۍ درکښې نشه وه
ما وې کهٔ زلزله وه، د دوؤ ښځو خاونده

هسې خو د نسوارو د ښائست ګلونه ډېر دي او زما جولۍ تنګه ده نو صرف دا یو صفت ئې هم ډېر دے چې سړے بلې نشې ته نهٔ پرېږدي.

زمانے بھر کے غم اور اک ترا غم
یہ غم ہوگا تو کتنے غم نہ ہوں گے

نسوار په خلهٔ کښې یوه بیماري نهٔ پرېږدي او سره د غابنونو هره بیماري د ببخه وباسي. تاسو به اکثر لیدلي وي چې د نسواري د خُلې نه صرف یو د نسوارو بوي راځي او چې ځوک نسوار نهٔ کوي د هغوي د خلو نه شل قسمه بویونه راځي. یو مشر وئیلي دي چې: "په خپله هم بیماري ده خو د شلو بیمارو علاج هم دے".

هغه مشر "ښځه" یاده کړې ده ځکه چې د نسوارو د صفتونو نه خبر نهٔ ؤ.

د نسوارو دا کمال مو وکتلو چې الف دین ئې رانه ببخي هېر کړو، بلکې د غېبت نه ئې بچ کړم او غېبت وائي چې د خپل مسلمان ورور غوښه خوړل دي او کهٔ ما ځوک مړ کړي نو د الف دین غوښه به ونهٔ خورم ځکه چې په دین کښې سخته ناروا ده داسې ځناور ته بد ځناور وئیلے شوے دے.

خدائے شته چې زهٔ خو ورته تل دعاګانې کوم چې خدائے دې ورله جنت ورکړي، ځکه چې جنت ته د تلو دپاره مرګ ضروري وي خو خدائے خبر زما دغه دعاګانې ولې لا نهٔ دي قبولې شوې.

کمال خو دا دے چې د الف دین ټول عمر د صحت د اصولو خلاف تېر شوے دے خو مجال شته چې کهٔ یوه بیماري هم ورته رانزدې شي. د بعضې خبردارو خلقو روایت دے چې یو ځل ورله تبه راغلې وه او هغه تبه ئې دومره تنګه کړه، دومره ئې آزار کړه چې په توبو توبو هغه تلې ده نو بیا هغه مالت ته هم نهٔ ده راغلې. بلکې یو تربور خو ئې ماته وئیل چې دا زمونږ په ملک کښې چې د بجلۍ کوم بدحال دے دا هم د الف دین د لاسه دے ځکه چې دې کم عقلې نادانې بجلۍ یوه ورځ الف دین له

شارټ ورکړے ؤ، د هغهٔ خو ئې څۀ ونۀ کړل خو ځان ئې پرې داسې خراب کړو چې د ښۀ کېدو هېڅ امکان ئې نشته او دا خبره زما زړۀ ځکه اخلي چې هغه په کوم کټ کښې کښېني هغې کښې بیا عمر له کټمل نۀ کېږي. ډېر ځل ورله ما مشوره ورکړې ده چې خپلې دې خوبۍ له کاروباري شکل ورکړه خلق به دې په مناسبه کرایه بوځي او د کټمل کُشۍ کار به درنه اخلي او دا خبره خو ئې ماته یوې ګاونډۍ کړې چې د هغوي په مالت کښې مار، لړم، ماشے، مچ، مچۍ بالکل نۀ کېږي.

## پاتې په بله ګڼه کې